ہفت وار رسالہ: 392
WEEKLY BOOKLET: 392

شیخِ طریقت، امیرِ اہلِ سنّت،
بانیِ دعوتِ اسلامی، حضرتِ علامہ مولانا محمد الیاس عطّار قادری رضوی
کے قلم سے رمضان المبارک 2024 کی پُر کیف یادوں کا تصویری البم

مرحبا صد مرحبا پھر آگیا رمضان ہے
کھل اُٹھے مرجھائے دل تازہ ہوا ایمان ہے

(قسط: 3)

# یادِ رمضان

(صفحات: 30)

یادِ عشرۂ رحمت
یادِ عشرۂ مغفرت

جہنّم سے آزادی کا عشرہ

آہ! اب رمضان اب جا رہا ہے
ہائے تڑپا کے رمضان چلا ہے

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# یادِ رَمَضَان قسط: 3

**دُعائے عطّار:** څوک چې دا رساله " یادِ رمضان (قسط:3) " ولولي یا واوري د هغهٔ پهٔ مدینه منوره کښې رَمَضَانُ المُبَارَک نصیب کړې او هغهٔ د مور پلار او د خاندان سره جنَّتُ الفردوس ته بے حسابه داخل کړې-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## وړومبے دا ولولئ

شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ به د خپلو مصروفیاتو نه څهٔ وخت ویستلو او د تیرو دوو کالو پهٔ شان به یې خکال هم د "**نیکی د دعوت**" پهٔ خاطر د رَمَضَانُ المُبَارَک شریف پهٔ میاشت کښې روزانه یو مَدَني ګل لیکلو او راقم (ابو محمد طاهر عطاري مَدَني) ته به یې ور کولو، پهٔ هغه ورځو کښې به د دعوتِ اِسلامي د مجلس Social Media نه هم د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ دا لیکل عام (Viral) کیدل- اوس دغه لیکل راجمع کړے شوي دي او د "**یادِ رمضان، قسط نمبر: 3**" نومې رسالې پهٔ شکل کښې د دعوتِ اِسلامي مجلس الـمدینـةُ الـعِلمیه (اِسلامک ریسرچ سینټر) شعبې "هفته وار رساله" له خوا جاري کولے شي- د الله پاک پهٔ فضل او کرم سره د "**یادِ رمضان، قسط نمبر: 2**" پهٔ شان پهٔ "**یادِ رمضان، قسط نمبر: 3**" کښې هم د مضمون پهٔ مناسبت سره ډیزائنګ شوے دے لکه چې د یو حد پورې هره صفحه " **ښکاره سبق**" هم دے- د مَدَني چینل د عِلم او د حکمت نه د ډک، مشهور پروګرام " **مَدَني مذاکره**" کتلو، اوریدلو شوق لرونکو د پاره د " یادِ رمضان، قسط: **1**، او **2**" پهٔ شان پهٔ "**یادِ رمضان، قسط نمبر: 3**" کښې هم د

مازدیګر د نـمونځ نه پس او د تراویح نه پس د مَدَني مذاکرو QR کوډ پهٔ هره صفحه باندې ورکړے شوے دے، کوم چې د سکین کولو سره عاشقانِ رسول د عِلمِ دِین برکتونه حاصلولے شي- (پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک شریف کښې به د هر زیارت پهٔ ورځ د مازدیګر د نـمونځ نه پس د هفته وارې د سُنّتو ډکې اجتماع پهٔ وجه مَدَني مذاکره نهٔ کیدله ځکه د زیارت د ورځې QR کوډ پکښې شامل نهٔ دې-) پهٔ "**یادِ رمضان، قسط نمبر: 3**" کښې پهٔ ورکړے شوو QR کوډ کښې یوه بله اضافه شوې ده چې روزانه د سحر د نـمونځ نه پس د نګرانِ شوریٰ حاجي محمد عمران عطاري مدظله العالي د بیان نه پس امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه (کراچی) کښې د ټولې میاشتې د اعتکاف کوونکو عاشقانِ رسول ته د "**د نـمونځ د احکامو**" وغیره پهٔ باره کښې دیني مسئلې بیانولې، د هٔغه هر نشست QR کوډ هم پهٔ دې کښې شامل کړے شوے دے- الله پاک دې د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه سورے پهٔ صحت او عافیت سره زمونږ پهٔ سرونو سلامت لري او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وکړي- الله پاک دې پهٔ دې کتاب د کار کوونکو بیا بیا د حج او د مدینے منورې د زیارت سعادت نصیب کړي او دا کار دې د هغوئي د پاره د نجات ذریعه جوړه کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

طالبِ غمِ مدینه و بقیع و بے حساب مغفرت

ابو محمد طاهر عطاري مَدَني

**نوټ:** د سحر د نـمونځ نه پس د نـمونځ د مسئلو حلقے د 13 رَمَضَانُ المُبَارَک پورې پرله پسې دي، د دې نه پس پهٔ بعضې ځایونو کښې د دوو نه د درې ورځو پورې د حلقو ویډیوګاني یو QR کوډ دي او څهٔ ورځې دا مَدَني حلقے نهٔ وې شوې-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (1)

پهٔ کوم دسترخوان باندې چې سبزي وي هغې ته فرښتے تشریف راوړي، لهذا پهٔ دسترخوان باندې سبزي کیخودل مستحب دي - (احیاء العلوم، 22/2)

## (2)

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

اَلسَّعِیْدُ مَنْ وُعِظَ بِغَیْرِہٖ، یعني خوش قِسمته هغهٔ دے کوم چې د نورو نه نصیحت حاصل کړي- (ابن ماجه، 35/1، حدیث: 46)

## (3)

## د خوابنې سره ښه سلوک

خاتونِ جنَّت حضرت بي بي فاطمه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا به د خپلې خوابنې صاحبې (صحابیه نبي حضرت فاطمه بنتِ اسد) خِدمت کولو- حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خپلې مور جانې ته وفرمائیل: حضرت بي بي فاطِمه (به ستاسو دومره خدمت وکړي چې) تاسو به د کور د کارونو نه بے پروا کړي- (اَلْاِصَابَۃُ، 269/8 ملخصاً)

## (4)

د رَمَضَانُ الْمُبَارَک کال 1445ھ پهٔ خلورمه شپه پهٔ شوې مَدَني مذاکره (مَدَني چینل Live) کښې د حلالو او حرامو مرغو پهٔ باره کښې د سوالونو او جوابونو سلسله وشوه پهٔ هغې کښې د بهار شریعت پهٔ حواله دا اُصول بیان کړے شول چې : " د پنجو والا مرغۍ کومه چې پهٔ پنجو باندې ښکار کوي حرامه ده" (لکه تپوس، باز وغیره)

(بهارِ شریعت، 324/3، حصه: 15)

**(5)**

# جنَّت ته پهٔ خندا داخلیدل

صحابي نبي حضرت سیِّدُنا ابو دردا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي:

خوک چې جنَّت ته پهٔ خندا داخلیدل غواړي هغهٔ له پکار دي چې د الله پاک پهٔ ذِکر باندې همیشه خپله ژبه لمده وساتي- (اَلْکَوَاکِبُ الدَّرِیَّۃُ، 117/1)

**(6)**

# پهٔ عبادت کښې د سستۍ وجه

حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي:

" د ګناهونو د نحوست [یعني سپیرهٔ والي] سره پهٔ عبادت کښې سستي او پهٔ رزق کښې تنګي راځي-" (اَلْکَوَاکِبُ الدَّرِیَّۃُ، 106/1)

**(7)**

# نعمتونه بچ کړئ

" د الله پاک نافرمانۍ اکثر د نعمتونو د تللو سبب جوړیږي" (فتح البارى، 257/12)

**(8)**

# د الله پاک د ناراضګۍ نخښه

حضرت عبد الله عَلَوي شافِعي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي:

د الله پاک د رحمت د نظر نه محرومتیا او د هغهٔ د ناراضګۍ نخښه دا ده چې بنده پهٔ ګناهونو کښې اخته شي- (رِسَالَۃُ الْمُذَاکَرَۃ مَعَ الْاِخْوَانِ الْمُحِبِّیْنَ مِنْ اَہْلِ الْخَیْرِ وَالدِّیْنِ ، ص 23)

## (9)

د رَمَضَانُ المُبَارَک شریف د نهمې شپې پهٔ مَدَني مذاکره کښې دا هم ووئیلے شو چې د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ یو فرمان مبارک کښې دا هم دي: (د لارې حقونه دي:) نظر ښکته ساتل، د ضرر رسوونکي خیز لرې کول، د سلام جواب ورکول او د ګناه نه منع کول- (بخاری، 165/4، حدیث: 6229 ملتقطاً)

## (10)

## د ګرانئ عِلاج

د رَمَضَانُ المُبَارَک د لسمې شپې پهٔ مَدَني مذاکره کښې دا ښکلے روایت بیان کړے شوچې: پهٔ مکه مکرمه کښې یو ځل وَسکي ګراني شوې، د حضرت مولیٰ علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پهٔ خِدمت مبارک کښې چې شکایت وکړے شو نو اوئې فرمائیل: " تاسو د وَسکو پهٔ ځائے کجورې استعمالوئ (نو د وَسکو د طلب کمیدو پهٔ وجه باندې به) د دې قیمت ښځپله راپریوځي-" (تاریخِ اِبنِ مَعِین، ص 168)

## (11)

د 11 رمضان لیکل نشته- د رمضان شریف دویمه جُمعه مو مبارک شه

## (12)

## د جنَّت مینځنی دروازه

د دولسم رمضان شریف کال 1445ھ پهٔ مَدَني مذاکره کښې (د شپې) دا حدیثِ پاک هم بیان شو: د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

" پلار د جنَّت مینځنی دروازه ده ستا خوښه ده که د دې حفاظت کوې او که دا پریږدې-" (ترمذی، 359/3، حدیث: 1906)

## (13)

## د رَمَضان د نوم حِکمت

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خادِمِ حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي:

د رَمَضان نوم رَمَضان دي د پاره کیښودلے شو چې رَمَضان ګناهونه وِيلې کوي او سوزوي يـې- (فیض القدیر، 32/3)

## (14)

حضرت ابو بکر بن عياش رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

" که د چا نه يو درهم چرته پريوځي نو ټوله ورځ افسوس کوي او وائي چې زما نه درهم ورک شوے دے-" خو ټوله ورځ په غفلت کښې د تيريدو باوجود کله هم دا نۀ وي چې هی افسوس! زما ټوله ورځ لاړله ما پۀ دې کښې هيڅ نيک عمل ونکړو-"

(حِفْظُ الْعُمْرِ لِاِبْنِ جَوْزِی، ص 36 بتغیر)

## (15)

## د کوثَر د اوبو 70 جامونه

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

" چا چې پۀ خپل زوي (يا لور) باندې پۀ ماشومتوب کښې اوبه وڅښلې، الله پاک به پۀ هغۀ باندې د قيامت پۀ ورځ 70 کرته د کوثر اوبه څښي-"

(جَمْعُ الْجَوَامِعْ، 176/7، حدیث: 22110)

## (16)

## پۀ عبادت کښې د خوند موندلو نُسخه

" څوک چې د لايَعني فضول څيز طرف ته نظر نۀ کوي نو د عبادت خوند او د

مُناجاتو خوړ والے به بیاموږي او د زړهٔ داسې صفائي کومه چې به ورته مخکښې چرې هم نهٔ وي میلاؤ شوې- (مختصر منهاج العابدین ، ص63)

## (17)

## پهٔ جومات کښې د دُنیا خبرې

پهٔ یو روایت کښې دي: څوک چې غیبت کوي او پهٔ جومات کښې د دُنیا خبرې کوي، د هغوئي د خُلې نه داسې بدبوئي ووځي د کومې چې فرښتے د الله پاک پهٔ حضور کښې د هغهٔ شکایت کوي- (فتاوی رضویه، 312/16)

## (18)

## سپینې جامې

جومات ته پهٔ سپینو جامو کښې راتلل مُستَحب دي- (لمعات اللتنقیح، 198/1)[1]

## (19)

## پهٔ زیات عمر کښې د عِلم حاصلولو فضیلت

د اخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

څوک چې پهٔ ماشومتوب کښې عِلمِ دِین حاصل نکړے شي خو پهٔ زیات عمر کښې حاصلول شروع کړي نو چې کله وفات شي هغهٔ ته به د شهید مرتبه میلاؤیږي- (کَنْزُ الْعُمَّال، حصه: 10، 70/5، رقم: 28839)

---

[1] . . . د 18 رمضان لیکل موجود نهٔ دي۔

## (20)

## د اختر خوشحالۍ او غريبانان

كه ممكن وي نو د خپل جومات د امام، مؤذّن او د خادم، غريب خپلوان او ګاؤنډي وغيره خاص طور د ضرورت مندو ساداتِ كرامو داسې مالي تركيب جوړ كړئ چې دوئي او د دوئي بچي هم د اختر په خوشحالو كښې شريک شي-

## (21)

## د عمامې فضيلت

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

"د عمامې [پټكي] سره دوه ركعته بغير د عمامې نه د 70 ركعتو نه افضل دي-"
(اَلْفِرْدَوْسُ بِمَاْثُوْرِ الْخِطَابِ، 410/1، حديث: 3054)

## (22)

## ګنده پيټرول

ګنده پيټرول د موټر مشين خرابوي، ګنده حرام خوراک د انسان مشينري خرابوي او زړۀ او دماغ، خيال او نيت هر څۀ خرابوي- (مراٰة المناجيح، 137/7 ملخصاً ـ 391/5 ملخصاً)

## (23)

## په جنَّت كښې كور

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

"څوک چې د صف خالي ځائے پوره كړي، اللّٰه پاک به ورله يوه درجه اوچته كړي او د هغۀ د پاره به په جنَّت كښې يو كور جوړ كړي-" (معجم اوسط، 225/4، حديث: 5797)

## (24)

د ثلیریشتم [24] رمضان شریف پهٔ مَدَني مذاکره کښې دا روایت بیان شو: د تورات شریف پهٔ حوالې سره: اے موسیٰ! پهٔ مخ باندې مُسکا راوله او نرمه رویه اختیار کړه، خلق به تا د سرو سپینو زرو تقسیموونکي ګس نه زیات خوښوي-

(اَلذَّخَائِرُ وَالْاَعْلَاقُ لِلْاِشْبِیْلِی، ص 343، دار صادر بیروت)

## (25)

## روژه ماتے او د اخترمبارکي

د امام اعظم ابو حنیفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه استاذِ محترم تابِعي بزرګ حضرت سيّدنا حمّاد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به پهٔ رمضان شریف کښې پهٔ 500 خلقو باندې روژه ماتے کولو او د اختر پهٔ ورځ باندې به یې هر یو ته سل (100) سل (100) درهم ورکول-

(سِیَرُ اَعْلَامِ النُّبَلَاءِ، 63/6)

## (26)

## د رزق انتظام به وشي

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

" څوک چې عِلم دِين حاصل کړي الله پاک به د هغهٔ مشکلات اسان کړي او هغهٔ ته به د هُغه ځائے نه رزق عطا کړي د چرته نه چې به د هغهٔ ګمان (یعني خیال) هم نهٔ وي- (جَامِعُ بَیَانِ الْعِلْمِ وَفَضْلِه، ص 66، حدیث:198)

## (27)

## د لَیلـۃُ الـقَدر نه حِصّه

پۀ 26 رمضان شریف د مازدیګر د نـمونځ نه پس پۀ مَدَني مذاکره کښې بیان شو چې پۀ حدیثِ پاک کښې دي: " چا چې د ماسخوتن نـمونځ د جَمعې سره وکړو یقینا هغۀ د **لَیلـۃُ الـقَدر** نه خپله حصه حاصله کړه-" (معجم کبیر، 179/8، حدیث: 7745)

## (28)

## صبر به يې جنَّت ته بوځي

حضرت سیّدُنا سفیان بن عُیَینه رَحۡمَۃُاللهِعَلَیۡه فرمائي:

" بندګانو ته د صبر نه افضل هیڅ نعمت ورنکړے شو،هُم د دي پۀ وجه به هغوئي جنَّت ته داخلیږي- (مَوۡسُوۡعَۃُ لِاِمَامِ اِبۡنِ اَبِي الدُّنۡیَا، 32/4، رقم: 60)

## (29)

## د مُعاف کولو ثواب

پۀ 29 رمضان کال 1445ھ د سحر د نـمونځ نه پس دا روایت بیان کړے شو:

د اخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام عرض وکړو: اے زما پروردګاره! زما پۀ بندګانو کښې د ټولو نه زیات عزت والا ستا پۀ بارګاه کښې څوک دے؟ الله پاک ارشاد وفرمائیلو: " هُغه بنده کوم چې پۀ بدله اخستو د قُدرت لرلو باوجود معاف کول کوي- (شعبُ الایمان، 319/6، حدیث: 8327)

## (30)

# اختر مو مبارک شه

اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي:

” اختر څۀ د دُنيا دستوره (يعني EVENT) نۀ دے بلکه د الله پاک حُکم دے، چې د شريعت مطابق نۀ وي نو صرف (يعني بالکل) بے کاره بلکې ګناه ده۔“

(فتاویٰ رضويه، 445/10)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد





978-969-722-774-7

01082547

فیضانِ مدینہ، محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net